ليکوال: واحد فقيری هاري واشنګټن ۲۰۰۹/۰۳/۰۱م

# د کرزي وروستی چال

د کرزي وروستی چال

د شنبې په ورځ، ښاغلي کرزي امر وکړ چې د جمهوري رياست انتخابات دي د اساسي قانون سره سم د اپريل يا مي په مياشت کې تر سره سي. د ښاغلي کرزي همدا نابېره تصميم افغانان او بين المللي ټولنه او په تېره بيا د ښاغلي اوباما څوانه اداره د يو لړ نويو جنجالونو او چلنچونو سره مخامخه کړه، او په اغلب ګومان ښايي د ښاغلي کرزي نيت او تکل همدا وي. په هر صورت، د جنوري په مياشت کې، د افغانستان د انتخاباتو کمېسيون د امنيت د خرابی او نورو مالي او لوجستيکي ستونزو له کبله د انتخاباتو نېټه د کرزي او بين المللي ټولني په سلا مشوره او توافق د اګسټ مياشتي ته وځنډوله. ددې ځنډ بل علت دا وو چې ګوندي تر هغه وخت پوري به اضافه امريکايي عسکرو په هېواد کې څه د امن او ثبات فضا ايجاده کړي وي. په غټو ښارونو کې به امنيت ټينګ سوی وي، او حتی شاوخوا کليوالي سيمي به هم تر څه کنټرول لاندي راغلي وي. خو د ښاغلي کرزي وروستي چال پخوانی معادله او نسخه چورلټ بدله کړه.

که څه هم ټولو ته څرګنده ده چې پدې شرايطو کې انتخابات ناممکن دي، خو ښاغلي کرزي په خپلي دې فيصلې سره د انتخاباتو پرسر د رواني سياسي او حقوقي لوبي اوډرامي په کشمکش کې د اساسي قانون د عملي کولو تر چتر لاندي خپل سياسي حريفان او تر ډېره حده واشنګټن څه بې انډواله او وار خطا کړل. د اساسي قانون د ٦١ مادې په اساس انتخابات بايد د مي مياشتي له ۲۲ څخه يا ۳۰ او يا ٦۰ ورځي مخکي وسي. اغلب ګومان دا دی چې ښاغلی کرزي پوهېږي چې په شفافو، منصفانه، او ازادو انتخاباتو کې يې د ګټلو چانس ډېر کم دی. دغه راز، هغه پوهېږي _يا يې پر ارواح باندي اوري_ چې واشنګټن په افغانستان کي د هغه پر ځای د يو بل مناسب مشر د پيدا کولو په لټه کی دی. نو بنا، کرزي غواړي چې د ځان سره يو ځای ټنني کنډواله کور هم پوره خراب کړي. د واشنګټن پوسټ ورځپاڼي د مشهور کالمنسټ، جېم هوګلنډ، په وينا کرزي غواړي چې په خپل انتخاباتي کمپېن کي حتی د "ينکي امپرياليزم " او يا "ينکي ګو هوم" شعارونه هم وکړي.

بلخوا، د کرزي تر فيصلي سمدستي وروسته، د متحده اياﻻتو د بهرنيو چارو وزارت اعلان وکړ چې د منصفانه او ازادو انتخاباتو لپاره مناسبه نېټه د اګسټ مياشت ده. د بهرنيو چارو د وزارت وياند د امنيت په باب اندېښنه وښوده. بين المللي څارونکي هم عقيده لري چې پر ټاکلي وخت باندي انتخابات نا ممکن دي.

ما پخوا هم ليکي وو چې د افغانستان په اوسني شرايطو کي انتخابات امکان نلري، او که چيري انتخابات وسي، ضرروبه جعلي او فراډ وي، او حتما به همدا پخواني داړماران بېرته له سره انتخاب سي. بلخوا، د اوسني رژيم د کرغېړنو معيارونو سره سم ، تر اوسه پوري، د نوم ليکني پروسه ﻻ هم نده ختمه سوی. د حکومت داخله وزير، ښاغلي حنيف اتمر، اعتراف کوي چې په ۱۷ وﻻياتو کي ياغيان حضور لري، او د ياغيانو شمېر د ۱۵۰۰۰ په شاوخوا کي بولي. غربي او امريکايي منابع وايي چې د هېواد په ۷۲ فيصده خاوره کي طالبان دايمي حضور لري. د اوباما اداره د کرزي حکومت فاسد، نارکو سټېټ، او بېکاره ګڼي. د افغانستان اوسني حاﻻت خراب، پېچلي، او خطرناک بولي.

اوس نو څرنګه به پدې داسي شرايطو کي شفاف، منصفانه، او ديموکراتيک انتخابات امکان ولري؟

په هر حال، د انتخاباتو د وخت مسله او جنجال داخلي اړخ هم لري. د انتخاباتو د ځنډېدو سره سمدستي، په پارلمان او په حکومت کي دننه د ښاغلي کرزي مخالفانو- په تېره بيا د ملي جبهې استازو او د کابل په حکومت کي د شمال ايتلاف بېشماره پلويانو-د کرزي د مشروعيت موضوع را مېنځته کړه. هغوی د انتخاباتو پر کولو باندي ټينګار کاوه، هغوی فکر کوي چې لمړی خو د هېواد په جنوب او شرق کي انتخابات ممکن ندي؛ دوهم، که چيري انتخابات وسي، د عامه خلکو د پراخ ګډون چانس ډېر کم دی. نو بنا، د هغوی د کانديد کاميابه کېدل اسانه کېږي. ويل کېږي چې د ملي جبهې کانديد به يا د بهرنيو چارو پخوانی وزير، ښاغلی عبدالله، وي، او يا به احمد ضيا مسعود وي. د ملي جبهې


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بګيريد
maqalat@afghan-german.de

وياند د جمهورريس کرزي لدې فيصلې څخه تود هر کلی وکی. زه يقين لرم که چيري د ملي جبهې کانديد انتخابات وګټي، د افغانستان روان سياسي او پوځي بحران به په يوه مرګانی سيمه ايز توپان بدل سي.

په عين حال کي، ښاغلي کرزي غواړي چي د انتخاباتو د نېټي په رامخته کولو سره خپل سياسي رقيبان وارخطا، بې نظمه، او تيت و پرک کړي. ځينو احتمالي کانديدانو خو حتی تر اوسه پوري خپلې کانديدی رسما ندي اعلان کړي. اکثره کانديدان نه انتخاباتي تشکيلات لري، نه انتخاباتي کمپين لري، نه حزب لري، نه کوم سياسي پلټفورم لري، او نه هم په ولاياتو يا مرکز کي محسوس سياسي حضور لري. تر اوسه پوري، يو کانديد هم د کمپين لپاره پيسې او منابع نلري. ټول ښېل اوښ ته اړتيا لري. د ښاغلي کرزي مهم او غټ سياسي حريفان به په اغلب ګومان ډاکټر اشرف غني، ښاغلي علي احمد جلالي، ډاکټر رمضان بشردوست، ښاغلي عبدالله، او ښايي څو نور کانديدان وي، ځکه د ۲۰۰٤ په انتخاباتو کي ۱۸ کانديدانو برخه اخيستې وه. د ۲۰۰۹ په انتخاباتو کي ښايي لا زيات شمېر کانديدان ګډون وکړي ځکه همدا اوس لا د اپوزسيون تر مينځ اختلافات زيات سوي دي. د افغانستان د جمهوري رياست اکثره احتمالي کانديدان په واشنګټن کي يو بل ته برګ برګ ګوري، او د يو بل هر حرکت او اقدام په دقت تحليل او تجزيه کوي. افغاني ټولنه، سراسري انتخاباتي کمپين، او د افغانستان د حياتي ستونزو په باب د خپلو نظراتو او د حل لارو تشريح او بيان بېخي هېر سوېدي. بس ټول فوکس واشنګټن دی. کرزي غواړي چي د خپلو سياسي حريفانو له همدې خپلمينځني اختلافاتو او تشکيلاتي کمزرويو څخه ګټه واخلي. هغه غواړي چي د سياسي پروسې ضوابط او مقرارت پخپله خوښه وټاکي. هغه غواړي چي د جنګ او مبارزې ته ميدان تر هرڅا وختي ورسېږي. هغه غواړي چي پر نورو باندي د مبارزې شرايط او مقررات تحميل کړي. او بالاخره هغه غواړي چي په تلوار، هلهله، او ټېله ټمبه کي خپل کار وکي.

همدا راز، کرزي غواړي چي د انتخاباتو د کمپين وخت را لنډ کړي څو په راتلونکو مياشتو کي د زياتېدونکو انتقادونو څخه ځان وژغوري. کرزي پوهېږي چي د اوباما په اداره کي د هغه پرخلاف ډېر زيات قوي کسان مقرره سوي دي. کرزي غواړي چي پدې ترتيب د اوباما حکومت تر فشار لاندي راولي او په نتيجه کي څه سياسي امتيازات ترې واخلي. مګر کېدای سي چي د کرزي وروستی چال د هغه لپاره ډېر ګران تمام سي. داسي برېښي چي کرزي غواړي چي په زور او جنجال له ارګ څخه ووځي. و السلام.

پايان


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de